حکم الاحتفال

بمولد النبی صلی الله علیه وسلم

# جشن میلاد النبی

# دعلماو په نظر


الشیخ محمد بن ابراهیم آل الشیخ

الشیخ عبدالعزیز بن عبدالله بن باز

الشیخ محمد بن صالح العثیمین

رحمهم الله


مترجم

حافظ نور احمد د ین

Aghalibrary.com

حقوق الطبع والنشر والترجمة محفوظة
لدار القاسم للنشر
الطبعة الأولى ١٤٢٢هـ

العنوان:
المملكة العربية السعودية ـ الرياض
طريق الملك فهد ـ بين شارعي التلفزيون والخزان
الرمز البريدي ١١٤٤٢ ص. ب ٦٣٧٣
هاتف: ٤٠٩٢٠٠٠ فاكس ٤٠٣٣١٥٠

موقعنا على الانترنت: www.dar alqassem.com
البريد الإلكتروني: sales@dar-alqassem.com

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین . وبعد

سوال وشو د سماحة الشیخ **محمد بن ابراهیم آل شیخ** نه په باره د حکم د محفل او اجتماع د عید میلاد النبی صلی الله علیه وسلم چه ایا یو کس د صحابو نه یا د تابعینو نه یا له دوی نه علاوه نورو سلفو صالحینو دا منعقد کړی؟

نو سماحة الشیخ په جواب کښی وفرمایل. پدیکښی شك نشته چه محفل د عید میلاد النبی یو نوعی بدعت دی په دین کښی . او دا پس له هغی نه شروع شو چه په عالم اسلام کښی جهالت خور شو . د ګمراهی او وهم ځای وګرځیدو . سترګی ړندی شوی . او دیتیو سترګو د تقلید ( تابعداری ) دلیل پکښی مضبوط شو . او خلك داسی شو چه د اکثرو څیزونو په باره کښی دېته نه ګوری چه ددی په مشروعیت او رواوالی باندی څه دلیل دی. حٰامخا دېته ګوري چه دا فلاني ویلي دي او فلاني غوره کړي دي ستنه کوم دلیل د دی بدعت دپاره داصحابو کرامو نه . دتابعینو نه . او تبع تابعینو نه . او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی لازم کړی تاسو پخپل ځان باندی سنت (طریقه) زما او سنت د خلفاء راشدینو چه په هدایت دی زوسسنه زمانه . منګولی ولګوی پدی او مضبوط سي ریسی او ځان وساتی دنوو کارونو نه (په دین کښی) ځکه چه هر نوی کار بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دي ترجمه چا چه زمونږ په دین کښی نوی کار پیدا کړو



Download From: Aghalibrary.com

چه ددی دین څخه نه وو نو هغه مردود دے او په بل روایت کښی دي . چې چه داسې عمل وکړو چه په هغې کښی زمونږ طریقه نوه نو هغه مردود دے. کله چه مقصد ددوی ددی میلاد النبی نه تعظیم درسول الله وي نو داخو بغیر له دی نه هم حاصلیږي . الله تعالی فرمائلی دي : او چت کړے دے مونږ ستا ذکر : (الشرح ۴) نو درسول الله ذکر اوچت کړے شوے دے په اذان کښی . په اقامت . خطبو . مونځونو . او تشهد کښی او درود په رسول الله په دعاء کښی او په وخت د نوم اغستلو درسول الله کښی . اورسول الله فرمائلی : بخیل هم هغه دے چه زه دده په مخکښی یاد کړے شم او دے په ما درودونه وانه ئی . او تعظیم درسول الله حاصلیږي په تابعداری دحکم دهغه . او رښتنې ګټل دهغه خبر لره . او په ځان ساتلو سره دهغه څیزنونه چه هغه ترینه منع فرمائلی ده . په شرعي طریقی سره دالله تعالی عبادت کولو سره . داددینه ډیرلوی تعظیم دے چه په کال کښی یوځل دهغه دپاره اجتماع منعقد کړے شي .او که چرے دا اجتماعات دثواب کار وے نوسلف صالحین ددے په کولو زمونږ نه زیات حقدار وو . ځکه چه هغوی زمونږ نه زیات درسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت او تعظیم کونکي وو او دوی په حاصلولو دخیرزیات حرص کونکی وو . اود مولود کولو والو په باره کښی چه ترڅنګ بعضي اهل علمو ویلي دي چه په خلکو کښی کله عوامل دکمزوری . دوهم اودشکست راتسي نو حیلو مسلکونو باندے دعمل په ځائې دوی بیا په ګشتي اجتماع نو سره دحیلو امامانو تعظیم کوي ځکه چه پدی قسم تعظیم سره ددوی په کمزوری نقش باندے څه منفت نشته . او پدیکښی شك نشته چه حقیقي تعظیم خو تابعداری دلوی ذات ده.دهغه لپاره خیرخواهي . او داسې



Download From: Aghalibrary.com

کارونه کول چه په هغې سره دهغه دین قائمیږي او مضبوط کیږي که دا رسول وي اوکه بادشاه وي .او یقینا سلف صالحین دروستنو خلکو نه زیات تعظیم کونکي وو درسول الله صلی الله علیه وسلم اودهغی نه پس دخلفاء راشدینو. او پدے لاره کښې هغوی خپل نفسونه او مالونه قربان کړي دي مګر تعظیم دسلف صالحینو درسو ل الله او دخلفاء راشدینو لپاره د روستنو صدو خلکو پشان نه وو چه ضائع کړی ده طریقه دسلف صالحینو په هدایت اونابعداری کښې او داخل شوی دی دوی په لاره دګمراهۍ په باره دتعظیم پے معنی کښې . پدیکښې تنك نشته چه رسول الله دټولو خلکونه زیات حقدار دے دهغه تعظیم چه مناسب وی ددی سره مګر درسول الله تعظیم دا نه ندے چه مونږ دهغی په دین کښې په زیاتولو یا په کمولو یا په بدلولو سره دهغه له تعظیم لپاره یو نوے شے جوړکړو . لکه څرنګه چه دهغه تعظیم ندے چه مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کښې په داسې اقسامو دتعظیم اوعبادت تصرف وکړو چه هغه دالله تعالی نه بغیر دبل چا سره لائق نوي . او ښه والے دنیت نه جائز کوي بدعت په دین کښې . او یقینا زمونږ نه مخکښې امتونو ډیر نوي څیزونه پحپل دین کښې په ښه نیت سره جوړکړی وو . همیشه وو دوی په اراده دتعظیم او په ښه نیت سره نوی څیزونه جوړول تر دی پورې چه دغې رسولانو چه کوم دین راوړے وو هغه باقي پانے نه ښو کچرے صلف صالحینو غفلت کړے وے لکه څرنګ چه دوی غفلت کړے وو یا لکه څرنګ چه روستنو خلکو داصل دین دضائع کولو غفلت وکړو همدارنګ لیکن سلف صالحینو زمونږ دپاره اصل دین محفوظ کړے دے نو په مونږ واجب دي چه اصل ته واپس شو او مضبوط یے ونیسو . نو خلاصه داشوه

چه اجتماع دمیلادونو بدعت دے ( فتاوی ورسائل سماحه الشیخ محمدبن ابراهیم آل الشیخ ۳-۵۴-۷۵).

او فرمائلي دي **سماحة الشيخ عبدالعزيز بن باز** رحمه الله په باره دحکم داجتماع میلاد النبی کښې : یقیناً دډیروخلکو له طرفه داجتماع عیدمیلاد النبی دحکم په باره کښې . او ددے په مینځ کښې درسول الله لپاره دپاڅیدلو . او هغه باندے دسلام غورځولو او له دینه علاوه نورو هغو کارونو چه په میلادونو کښې کولے شي بار بار تپوس شوے .

**جواب** : نده جائز اجتماع په مناسبت د پیدائش درسول الله صلی الله علیه وسلم اونه غیرله دنه ( یعنی میلاد )ځکه چه دایو نوے بدعت دے په دین کښې .ځکه چه دانه رسول الله صلی الله علیه وسلم کړے نه خلفاء راشیدینو او نه نورصحابو او نه تابعینو کړے دے . اودوی دټولو نه په سنت باند ښه پوهیدونکي وو . او دروستنو خلکونه ني زیات کامل محبت کولو درسول الله سره اوتابعداري دشریعت دهغه .

اوفرمائلي رسول الله صلی الله علیه وسلم: چاچه یونوے کار زمونږ په دین کښې جوړ کړوچه هغه ددے دین څخه نه وو نو هغه مردود دے او په بل حدیث کښې فرمائلي دي : ځان وساتئ دنوو کارونو نه په دین کښې ځکه چه هر نوے کار په دین کښې بدعت دےاوهر بدعت گمراهي دد نوپدے دوارو حدیثونو کښې سخت وعید دے د بدعت جوړولو او په هغې باندے په عمل کولو الله تعالی پخپل کتاب کښې فرمائلي دي :

ترجمه : (اوهغه څه چه درکړي تاسو ته رسول نو واخلي او هغه څه چه

منع کوي تاسو له هغې نه نو منع تې ی دهغې نه او وویرېږی دالله نه یقیناً الله تعالی سخت عذاب والا دے )الحشر ۷) هم دارنګ فرمائلي دي الله تعالی :

ترجمه : نوودی ویرېږي هغه کسان چه مخالفت کوي له حکم ددغه ( رسول صلی الله علیه وسلم ) له دینه چه ورسیږي به دوی ته څه آفت یا ورسیږي به دوی ته عذاب دردناك په اخیرت کښې :( النور ۶۳)هم دارنګ فرمائلي دي الله تعالی

ترجمه : حا مخا ده ستاسو لپاره خائسته نمونه ده په (ژوند ) درسول الله صلی الله علیه وسلم کښې دهغه چا لپاره چه امید لري د ( ملاقات او درضا ) دالله اوورځې داخیرت او یادوي الله ډیر .او فرمائلي دي الله تعالی :

ترجمه : او هغه اولنیی دمهاجرینو نه اوله انصارونه او هغه کسان چه تابعداري کړے ده ددوی په نیکۍ سره راضي شو ے دے الله تعالی له دوی نه .او راضي شوي دي دوی دالله تعالی نه او تیار کړی دے الله تعالی ددوی لپاره جنتونه چه بهیږي لاندې ددې نه نهرونه چه همیشه به وي دو ی په هغو کښې تل ترتله او دالویه کامیابي ده ( التوبه :۱۵۵) او فرمائلي دي الله تعالی

ترجمه نن ورځ مکمل کړو ما ستاسولپاره ستاسو دین او تمام مې کړو په تاسو باندې خپل نعمت . او غوره مې کړو ستاسو لپاره دجهنه ددین نه اسلام ( المائده آیت ۳)اودامې قسم ایاتونه ډیردي . اودامې قسم نوی کارونو ایجادکولو نه بیب معلومیږي چه دامت لپاره الله تعالی دا دین

ندے مکمل کړے اوله دینه بیـا دا معلومیږي چه رسول الله هغه څه ندی رسولی نړ دے چه دا روښنی خلك راغلل اوایجادنی کړل هغه څیزونه دالله تعالی په شریعت کښی چه الله تعالی دهغی حکم نه وو ورکړے . پدے حال چه دوی ګمان کوي چه داهغه عملونه دي چه دوی بـه الله تـه قریب کـړي . اویقینا داډیر خطرناك کار دے او اعتراض دے په الله تعالی او دهغـه په رسول باندے حالانکه الله تعالی په خپلو بندګانو باندے دین پوره کړے دے او نعمت نی وربانده ے تمام او پوره کړے دے .او رسول الله صلی الله علیـه وسلم ښکاره تبلیغ کړے دے او داسے یوه طریقه ئي نده پریخودے چه سړے جنت ته رسوی او د اور ني لـرے کـوي مګر خپل امت تـه بیـان کـړے ده . لکه چه په صحیح حدیث شریف کښی عبدالله بن عمر درسول الله روایت نقل کـړے دے چـه رسول الله صلی الله علیـه وسلم فرمائلي دي :چـه الله تعالی هیڅ یونبي ندے رالیږلے مګر په هغه باندے دالازم وو چه خپل امت لپاره چه په کوم څیرنه خبر وی هغه ورته وښائي اوچه ددوی لپاره په کوم شر باندے عالم پوهه وی دهغی نه ئی ویروی (مسلم )او دا ښکاره خبره ده چه نبی علیه السلام دټولو انبیاء نه غوره او اخیری نبی دے پوره رسونکے اوخیر خواه دے . نوکه چرے اجتماع دمیلادونو دالله تعالی دغوره دین نه وے نورسول الله صلی الله علیه وسلم به ضرور خپل امت ته بیان کړے وو . یا به ئی پخپل ژوند کښے کړے وے او یا به صحابو کړے وے نو هرکله چه دارنګې ندی شوی نو معلومه شوه چه دادا سلام دکړونو نه ندے بلکه داد هغه بدعاتو نه دے چه رسول الله ترینه خپل امت ویرولے دے څرنګ چه مخکښی تیر شو دوه حدیثونو کښی او ددی پشان نورحدیثونه راغلی دی لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم دجمعې په خطبه کښی وفرمائل : ډیر

ناکاره د کارونو نه نوی کارونه دی په دین کښې اوهر بدعت گمراهي ده
( رواه مسلم ) اياتونه اوحديثونه پدے باب کښې ډير دي . ددی دلائلو په
وجه باندی يو جماعت دعلماء دميلادونو نه انکار کړے دے او په هغې
باندے نی دعمل نه خلك ويرولي دي . او بعض متاحرينو (روستنو )
مخالفت کړے دے چه دا (بدعت حسنه ) ښه بدعت دے . ليکن قانون
دشرع دادے چه څه تنازعه (اختلاف ) داشي نودالله کتاب او درسول الله
صلى الله عليه وسلم سنت ته به ئي واپس کوی. لکه څرنگ چه الله تعالى
فرمائلي دی . ترجمه : اے هغو کسانو چه ایمان مو راوړے دے تابعداري
وکړئ دالله او دالله تعالى درسول اوتابعداري وکړئ دخاوندانودحکم
اوامرستاسونه. که چرته جگړه وکړه تاسو په يو شي کښې نو واپس ئي
کړئ الله تعالى ته ( دالله کتاب ته ) او دالله رسول ته ( حديث ،سنت ) که
تاسو ايمان لرئ په الله او په ورځ داخرت . داډيره غوره ده او ډيره ښه ده
دانجام په لحاظ سره : (النساء ايت : ۵۹)
او هم دارنگ الله تعالى فرمائلي .
ترجمه :او په هغه خبره کښې چه جگړه وکړئ ( مختلف شی ) نو فيصله
دهغې سپارل شوے ده الله ته. ( الشوری ايت : ۱۵ ) نو دامسئله داجتماع
ميلاد ونو واپس کړه مونږ دالله تعالى کتاب ته نو دالله تعالى کتاب مونږ
ته درسول الله صلى الله عليه وسلم دتابعدارى حکم کوی او ويروی مونږ
په عذاب سره دنافرمانئ درسول الله صلى الله عليه وسلم نه او مونږ ته
خبر راکوی چه الله ددے امت دين کامل کړے دے او نده دااجتماع دهغې
دين نه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم پرے رانلل کړيدي نو دادهغه
دين نه نشوه چه الله تعالى زمونږ دپاره کامل کړے دے او په هغه کښې

مونږ ته درسول الله صلی الله علیه وسلم په تابعداری حکم کړے دے.هم دارنګك دا مسئله مونږ سنت درسول الله صلی الله علیه وسلم ته واپس کړه نو بیا مونه موندل چه دا کار رسول الله صلی الله علیـه وسلم کړ ےیا ئی حکم کړے او یا صحابو کړے نو مونږ پوهه شو چه دا کار ددین نه ندے بلکه دا یو نو ےبدعت دےاو داهل کتابو کښی دیهودو او نصاری سره دهغوی په اختر ونو کښی مشابهت دے ، پدے سره خبره واضح شوه دهریو لرږ بصیرت لرونکی او په حق کښی درغبت لرونکی دپاره چه اجتماع دمیلانونو ددین اسلام نه نده بلکه دهغه نووبدعتونو نه ده چه الله او دهغه رسول دهغی نه په ویره او پریخودلو باندے حکم کړے دےاو یو عاقل سړی لره پدے ندی دهوکه کیدل پکار چه په ټولو اطرافو کښی ئی ډیرخلك کوي ځکه چه حق په ډیر وکونکو سره نشي معلومیدے بلکه حق په شرعی دلائلو سره معلومیږي لکه څرنګك چه الله تعالی دیهودو او نصاری په باره کښی فرمائلی دي ، ترجمه . اووائی ( اهل کتاب ) هر ګز به داخل نشي جنت ته مګر هغه څوك چه وي یهودی یا نصرانی ، دانفسانی غوښتنی ددوی دی ووایه راوړه دلیل که چیری تاسو رښتنی ئی . ( البقره ایت ۱۱۱)اوفرمائلي دي الله تعالی

**ترجمه** : او که تابعداری وکړی ته دزیاترو هغه کسانو چه په ځمکه کښی دي نو وا به ړوی دوی تالره لارے دالله نه بیا دا اجتماعات سره له دینه چه بدعت دے اکثر دنورو ګناهونو نه ، نه خالی کیږی لکه ښځی او سړی دیو بل سره ګډوډ کیدل ، استعمال دسندرو ، الات دسرود ، او دنشي څیزونو استعمال او له دینه علاوه نور ډیرناکاره کارونه پکی کیږی ددے نورو ټولو نه لویه ګناه چه هغه هم پدی کی کیږی هغه شرك اکبر ( لوی

شرك ) دے اوداشرك كيږي په سبب دتيريدلو دحد نه په شان درسول الله صلى الله عليه وسلم او دنورو اولياء او بزرگانو كښي په دعاء غوښتلو سره له دينه فريادرسي كول پده سره او مدد طلب كول دده نه اودا عقيده لرل چه دوى په علم غيب پوهيږي او دغه شان نور كفري كارونه كول . او رسول الله فرمائلي دي ځان وساتى دغلونه ( دحدتيريدونه ) په دين كښي يقينا هلاك شوى دى هغه څوك چه ستاسو نه مخكښي وو دوجه دغلو نه په دين كښي . اورسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دى .زما پشان كښي زياتے مه كوى لكه څرنگ چه نصارى دابن مريم ( عيسى ) په باره كښي كړے وو يقينا زه بنده يم نو ووائى ( عبدالله ورسوله ) دالله بنده او دالله رسو ل ،او دا بخارى شريف كښي نقل شوى دى ليكن دعجيبو خبرونه داده چه ډير خلك دبدعت په دے اجتماعاتو كښي د حاضر يدوكوشش كوى او له دينه دفاع هم كوى . او دهغه اجتماعاتونه روستو كيږي چه الله تعالى پرے لازم كړي وي او دغه باندے سرهم نه اوچتوى او ديته نه گورى چه لوى ناروا كارته راغلے دے شك نشته پديكښي چه داكاردايمان دكمزورى او دكم والى دعقل په سبب كيږي،دالله تعالى نه دځان دپاره او ټولو مسلمانانو دپاره دعافيت سوال كوو. له دے وجه نه بعضي په دوى كښي گمان كوى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ميلاد ته حاضريږى . ددے وجه نه دوى پاڅي په داسى حال كښي چه سلام ويونكى او په خيرراغلے ويونكي وي ( خوش آمديد ) دالوى دروغونه دي ، او ناكاره جهالت دے. يقينارسول الله صلى الله عليه وسلم دقيامت نه مخكښي دخپل قبرنه .نه راځي او نه دخلكو نه ديو كس سره ملا ويگى ،اونه ددوى اجتماعاتو ته حاضريږي ،بلكه هغه به ترقيامت پورے په خپل

قبر کښې مقيم وی ،او روح مبارك دهغه په اوچت مقام دعليين کښې دخپل رب سره دعزت په کور کښې دے څرنګ چه الله تعالی فرمائلی دی په سوره المؤمنين کښې ترجمه: بيا بيشکه تاسو روستو له ژوندنه خامخا مړه کيدونکی يئ بيا بيشکه تاسو په ورځی دقيامت کښې ژوندی راپاڅولے شی .ايت ۱۵-۱۶)او نبی عليه السلام فرمايلی دي :

ترجمه : زه اول دهغه کسانو نه يم چه دقيامت په ورځ به ترينه قبر پرانستے شی زه اولنے سفارش کونکے يم اول به زما سفارش قبلولے شی ، دا ايت کريمه اوحديث شريف او ددے پشان نور ټول اياتونه او احاديث پدے دلالت کوی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اونوروفات شوی خلك به يقينا دقيامت په ورځی دخپلو قبرونونه راپاڅيږی‌او پدے باندے دټولو مسلمانانو دعلماء اتفاق دے هر مسلمان لره په دے کارونو خبريدل ضروری دی . او ځان ساتل دهغه بدعتونو او خرافاتو نه چه الله تعالی پرے څه دليل ندے نازل کړے او دے جاهلانوداهرڅه دځانه جوړکړی‌دی .هرچه درود‌او سلام دے په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندےنو دا الله ته دنزديکونکو عملونونه دےاو دنيکو کارونونه دے څرنګ چه الله تعالی فرمائلی دی : ترجمه : بيشکه الله او پرښتی دالله درود وائی ( رحمت راليږ ی ) په نبی باندے اے هغو کسانو چه ايمان مو راوړے دے درود ووايئ په هغه باندے او سلام ووايئ په سلام ويلو سره .او رسو ل الله صلی الله عليه وسلم فرمائلی دی : څوك چه په ما باندےيو ځل درود ووايی‌الله به په هغه باندے لس ځله رحمت راليږی . درود شريف په ټولو اوقاتو‌کښی وئيل جائز او دهر مونځ په اخير کښې يئ تاکيد راغلے دے بلکه دعلماء ديوے ډلے په نزد باندے دهر مونځ په اخيري تشهدکښی درود وئيل واجب دی او

په ډيرو ځايونو کښي سنت مؤکد دی لکه پس داذان او په وخت دذکرد نو م درسول الله صلی الله علیه وسلم او دجمعې په ورځ او شپه کښې ځرنګ چه پدې باندې ډير احاديث دلالت کوی .دالله تعالی نه دعاء ده چه مونږ لره او ټولو مسلمانانو لره په دين باندې د پوهې او دمضبوط پاتی کيدو توفيق راکړی او الله تعالی دې احسان وکړی په ټولو باندې دعمل دسنتو او په ځان ساتلو دبدعاتونه يقينا الله تعالی جواد اوکريم دې وصلی الله علی نبينا محمد وعلی آله وصحبه . دا دسماحه الشيخ عبد العزيز بن باز رحمه الله دالتحذير من البدع نومی رسالې نه نقل شوی دی .

او تپوس وشو د فضيلة الشيخ **محمد بن صالح العثيمين** رحمه الله نه په باره دحکم داجتماع د ميلادالنبی کښې نو هغه په جواب کښې وفرمائل : چه اول : درسول الله صلی الله عليه وسلم دپيدائش شپه دربيع الاول نهمه شپه ده او دولسمه نده ، نو بياپه دولسم دربيع الاول باندې اجتماع کول په تاريخی لحاظ سره هم بې ثبوته ده .دويم: په دينی لحاظ سره هم ددې اجتماع دپاره څه دليل نشته ، ځکه که چرې دا اجتماع دالله ددين نه وې نو رسو ل الله به کړې وې ، او يا به ئی خپل امت ته دکولو حکم کړې وې . که چرې رسول الله پخپله کړې وې يا ئی امت ته حکم فرمائلې وې نو دا به ضرور او لازما محفوظ وې ځکه چه الله تعالی فرمائلی دی

ترجمه · بيشکه مونږ پخپله نازل کړی دې ذکر او يقينا مونږ دده خامخا ساتونکی يو ( الحجر -۹ ) او هر کله چه ددينه يوه خبره هم نشته نو معلومه شوه چه داد الله تعالی ددين نه نده او کله چه دالله تعالی ددين نه

نشوه نو بیازمونږ لپاره ندی جائز چه دالله تعالی عبادت پدے طریقه سره وکړو او نه پدے طریقه الله تعالی خان ته نزدے کړو ځکه چه الله تعالی ځانته درسیدلو دپاره یوه معینه لاره مقرر کړے ده او هغه لاز هغه ده چه رسو ل الله پری راغلے دے نو څرنګ جائز دی زمونږ دپاره او حال دادے چه مونږ ( دالله ) غلامان یو چه مونږ دخپله ځانه الله تعالی ته درسیدلو دپاره په داسی طریقه سره راتلل وکړو، دا خو دالله تعالی په حق کښی جرم دے چه مونږ دهغه په دین کښی یو داسی طریقه شروع کړو چه دهغه ددین نه نوی . او بیا ددینه دالله تعالی ددے قول تکذیب راځی .ترجمه : نن ورځ مکمل کړو ماستا سو دین او تمام می کړو پرتاسو نعمت خپل او غوره کړه ما ستا سو لپاره اسلام دجهته ددین ( المائده ایت : ۳) نو مونږ وایو که چرے دا اجتماع پوره والے او اتمام ددین وی نو بیا به دا خامخا درسول الله صلی الله علیه وسلم دوفات نه مخکښی شوے وے ( ځکه چه دین درسول الله صلی الله علیه وسلم دوفات نه مخکښی تمام شوے دے ) او که دا ددین پوره والے او اتمام نه نوی نو بیا دا ممکنه نده چه داددین وی . ځکه چه الله تعالی فرمائلی دی ،

ترجمه . نن ورځی ما ستاسو لپاره دین مکمل کړو . ( المائده ایت : ۳) او که څوك وائی چه دپوره والی او اتمام ددین درسول الله صلی الله علیه وسلم دوفات نه روستو شروع شوے دے ( دایت معنی داده چه درسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کښی دین کامل شوے دے او دا کارد دوی د رسو ل الله صلی الله علیه وسلم دوفات نه روستو شروع کړو او دین ئی پرے کامل کړو نو بیا دوی ددے ایت تکذیب وکړو چه دین درسول الله په ژوند کښی کامل شوے ځکه چه بیا نیمګړے پاتی شوے وو او پدے

اجتماع سره تمام شو . او پدیکښې شك نشته چه کوم خلك دعید میلاد النبی اجتماعات کوی نو هغوی درسول الله صلی الله علیه وسلم دتعظیم په اراده سره کوی او دمحبت داظهار په ارادی ئې کوی . او درسو ل الله صلی الله علیه وسلم تعظیم او دهغه سره محبت لوی عبادت دے نو بیا دعید میلا دالنبی اجتماع هم عبادت شو ، او په دین کښې نشته نو زمونږ لپاره هرګز ندی جائز چه مونږ په دین کښې یو نوے شې جوړ کړو چه په دین کښې نوی ، نو اجتماع میلادالنبی بدعت دے او حرام دے .بیا مونږاوروچه پدیکښې لوی منکرات (ګناهونه ) کیږی چه شریعت دهغې اجازت نه ورکوی او نه عقل ، حس ، او فهم دهغې اجازت ورکوی . دوی په خوش او ازئې سره داسې قصیدے وائی چه په هغې سره درسو ل الله صلی علیه وسلم په شان کښې زیاتے کوی تردے چه دالله تعالی نه ئې لوی ګرځوی ( العیاذ با الله ) همدارنګ مونږ دبعضې اجتماع کونکو بیسو قوفی او رو چه دوی درسو ل الله دپیدائش قصه بیا نوی او کله دے قول ته ورشی ( ولد مصطفی ) یعنی پیداشو مصطفی نو ټول دیو سرې پشان پاځی او وائی چه درسول الله روح مبارك حاضر شو او مونږ دهغه دتعظیم دپاره پاځو دا بیوقوفی‌ده. او بیا ددوی پاځیدل دادب نه ندی ځکه چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم به دچاپاځیدل بد ګڼل اود صحابو کرامو هم دا حال وو ، اصحابو درسول الله صلی الله علیه وسلم سره ډیر محبت وو او زمونږ نه ئې درسول الله صلی الله علیه وسلم زیات تعظیم کولو دوی به نه پاځیدل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ځکه چه دوی به لیدل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا بد ګڼل حال دادے چه هغه ژوندے وو ، نو څه دے خیال دی ( چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات دے ) دا

میلاد بدعت دے او دهغه درے غوره صدو دتیریدلو نه روستو شروع شوے دے او کیږی ددے کارونو سره هغه منکرات چه اصل دین ته نقصان رسوی سوا ددینه چه دسړو او ښځو په مینځ کښی اختلاط (گډوډ کیدل) راځی او دغه شان نورناکاره کارونه .وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه اجمعین .داد فضیلة الشیخ محمد بن صالح العثیمین دکتاب فتاوی ارکان الاسلام صفحه (۱۷۳-۱۷۵) نه نقل شوی دی .

Download From: Aghalibrary.com

مطابع الدار الهندسية/القاهرة
تليفون/فاكس : (٢٠٢) ٥٤٠٢٥٩٨